# د۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د ټاکنيز بهير پر مالي لګښتونو څارنه

د افغانستان دعادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ (فيفا) له ټولوهغو شخصيتونو او بنسټونو چې له (فيفا) سره يې ددې پروژې په بشپړاوي کې مرسته او لاس نيوې کړی مننه کوي. موږ په ځانګړې توګه د بشر حقونو د خپلواک کميسون، د دولت د وزارتونو، ولسوالانو، کابل ښاروالی، په افغانستان کې د سره صليب اداري، د کابل دپوليسو حوزو، لوې څارنوالی، دالمپيک ملي کميټې او هغه نوماندانو چې په ورين تندې يې له موږ سره يې ددې پروژې په اوږدو کې خبرې کړې، مننه کوو.

موږ د پورته بنسټونو او شخصيتونو له مرستو مننه کوو او هغوی ته په ورځنيو چارو کې دبرياليتوب غوښتونکي يو.

دا پروژه انتخاباتي سيستمونو نړيوال بنسټ (آيفس) په مالي مرسته تر سره شوه.

لوستوونکي که په دې رپوټ کې د راغلو مسايلو د روښتيا په ا ړه وړانديزونه او غوښتني لري کولاې شي خپل وړانديزونه او غوښتني دافغانستان دعادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ (فيفا) سره شريکي کړي. او په دې توګه د ټاکنو په اوږدو کې د روښتيا د لا غښتلي کيدو سره مرسته وکړي.

نادر نادري

دافغانستان د عادلانه او خپلواکو ټاکنو د بنسټ مشر

د افغانستان دعادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ(فيفا) چې د يو خپلواک بنسټ په توګه په راتلونکو ټاکنيز بهير دسطحې دلوړاوي لپاره کار کوي.(د۱۳۸۹کال د ولسي جرګې د ټاکنو دمالي چارو څارني) پروژه يې د انتخاباتي سيستمونو نړيوال بنسټ (آيفس)په مالي مرسته تر سره کړه.

ددې رپوټ دوړاندې کولو موخه ،دهغه موندونو وړاندې کول دي چې فيفا (دټاکنيزو منډو ترړو) دڅارني پر مهال تر لاسه کړيدي. هغه موندنې چې دټاکنو په مالي چارو کې دسمونونودراوستو په موخه دمننونکو وړانديزونو دچمتو کولو لپاره تر لاسه او ګټه ترې پورته شوې.

د۱۳۸۹ کال دولسي جرګې دټاکنيز بهير څارنه ددې فکر سره چې پيسي په ټاکنيز بهير او نورو مسايلو کې مهم رول لري طرح شوه. دا رول، دې ته په پام سره چې دافغانستان دنوې ټاکنيز نظام روښتيا په خپلو لومړينو پړاوونو او جوړښت کې ده مهم رول لري.

ټاکنيز بهير ته درايه ورکوونکو باور راماتول او هغوی ته په افغانستان کي دمشروع ټاکنيز نظام باور ورکولو په موخه ،بايد راتله،سم او عادلانه کړنلاري ولرو،ځکه دا کړنلارې په ټاکنيز پهير کې بنستيز ارزښت لري.

دا پروژه په افغانستان کې دخپل ډول لومړنی پروژه ده نو دهمدې امله هيله کيږي چې تر څو هغه معلومات چې دلته وړاندې کيږي،ددې سبب شي چې دټاکنيزومندو ترړو مالي لګښتونه ،هم په افغانستان کې دټاکنيز بهير دسمونونو په لړ ليک کې شامل کړي.

دا رپوټ ديو شمير هغه کانديدانو دپام وړ دې په ټاکنيز بهير کې مالي لګښتونه تر څيړنې لاندې نيولي دې .ددې مسلي څيړنه موږ ته ددې موقع راکوي چې  هغه  موجودې ټاکنيزې لاربښوونې چې دکانديدانو له لوری په پام کې نيول شوي تر څيړنې لاندې ونيسو.له بله پلوه،ددې مسلي څيړنه موږ ته ددې اجازه راکوي چې دټاکنيز بهير دمالي چارو په برخه کې دموجودو کړنلارو څيړنه هم وکړو،نيمګړتياوې وپيژنواو دلازمو سمونونو وړانديز وکړو.همدارنګه ددې مسلي څيړنه موږ ته دا موقع راکوي چې دموجودو کړنلارو په اړه دنوماندانو دپوهې کچه او هغه هڅې چې دخلکو دپوهاوي دکچې دلوړاوي په موخه دټاکنو دخپلواک کميسون له لوري تر سره کيږي وڅيړو.

په دې رپوټ کې، د څيړنې کړنلارې (ميتودولوژي)، بنستيزې موندنې او د ټاکنيز بهير دمالي لګښتونو په اړه د سمونې وړانديزونه وړاندې شويدي.

فيفا پر لاندې درې بنستيزو ټکو ټينګار کړې (۱) له دولتي امکاناتو نه ناوړه ګټه اخيستنه. (۲) د رايو پيرل. (۳) د ټاکنو د خپلواک کميسون درپوټ ورکونې د لارو چارو په پام کې نيول.

د هغه موخې د پلي کولو په لړ کې چې په پاې کې يې يادونه شوې فيفا دځينو ځانګړو نوماندانو ځانګړې لګښتونه تر څيړنې لاندې نيولي دې. دفيفا دا رپوټ، دټاکنيزو چارو پر مالي بهير دڅارنې په لړ کې تر لاسه شوې موندنې او په پورته يادو شويو درې برخو کې خپل وړانديزونه وړاندې کوي.

د څېړنې کړنلارې (میتودولوژي) په برخه کې: په دې برخه کې، ټولې هغه بیلابیلې لارې چارې چې د ټاکنیز بهیر دمالي چارو دڅېړنې په مومخه تر لاس لاندې نیول شوي وړاندې کوي.کارول شوې لارې چارې دادي:

د ټاکنیزو غونډو او کمپاینونو نه لیدنه، دټاکنیزو منډو ترړو په موخه تر سره شوي لګښتونو او له دولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخیستنې په موخه، له دولتي امکاناتو نه د ناوړه ګټې اخیستنې د څارنې په موخه له دولتي ادارو نه لیدنه، دموجودو کړنلارو نه دنوماندانو دخبرتیا په اړه دنوماندانو سره مرکې، په نادولتي تلویزیونون کې د نوماندانو له لورې دټاکنیزو منډو ترړو دلګښتونو څارنه. د ملي تلویوزیون د چلند څارنه،او په ټوله کې دهغه مالي رپوټونو ارزونه چې دنوماندانو له لورې دټاکنو خپلواک کمیسون ته ددغه رپوټونو د سموالي په موخه وړاندې شویدي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسون د رپوټ ورکونې د کړنلارو د په پام کې نیولو برخه: دا برخه په دې موخه طرحه شوې تر څو دهغه ځانګړو نوماندانو له لورې تر سره شوې مالي لګښتونه دټاکنو د خپلواک کمیسون له موجودو کړنلارو سره پرتله کړو.په دې پرخه کې له موجودو کړنلارو په اړه دنوماندانو دپوهاوي دکچې کوټلې ارزونه او همدارنګه دنوماندانو له لورې دوړاندي شویو مالي رپوټونو دکره والي ارزونه شامله ده.دبیلګې په هغه څارنه کې چې دفیفا له لورې تر سره شوه ٦٢ سلنه نوماندانو له هغه څه نه چې لګښت یې کړی و لږ رپوټ ورکړی دی ،په یو مورد کې چې فیفا وموند په یو رپوټ کې چې دټاکنو خپلواک کمیسون ته دیو نوماند له لورې وړاندې شوی و ټول لګښت چې دنوماند له لورې شوی و دوړاندي شوي رپوټ سره یې ١٤٩٥ سلنه توپیر درلود.

له دولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخیستنې برخه: دا برخه هغه برخې څېړي چې له دولتي امکاناتو نه دیو نوماند په ګټه او یا دیو او یا څو نوماندانوته په زیان اړولو کې ترې کار اخیستل شوی وي.همدارنګه دې پروژې دټاکنو په چارو کې ددولتي چارواکو لاسوهنه هم څېړلې ده.دټاکنو دقانون پربنسټ،دیو نوماند او یا نوماندانوپه ګټه او زیان ددولتي امکاناتو نه ګټه اخیستنه منع شویده.دفیفا سیمه بیزه څارونکو له دولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخیستنې چې له دولتي امکاناتو نه ناوړه ګټه اخیستنه، دملي تلویزیون له لورې د ځانګړې نوماند دټاکنیز بهیر پلوي کول او په رسمي وخت کې دځانګړو نوماندانو په ټاکنیزو منډو ترړو کې ددولتي کارکوونکو برخه اخیستنه پکې شامله ده یاددښت کړیدي.

درای پیرلو برخه: دا برخه د١٣٨٩کال دولسي جرګې د ټاکنو په بهیر کې د رایو پیر او پلور تر څارنې لاندې نیسي. په دې برخه کې پر هغو ټکو ټینګار کیږي چې نوماندانو د پیسو او یا نور ټولینز خدمتونو په بدل کې درایه ورکوونکوراییې وپیرې.که څه هم چې درایې پیرلو دمسلې سپیناوي خورا ګران کار دی خو هغه څارنه چې په دې پرخه کې تر سره شوه دا یې وښوده چې په کابل کې د رایو پیر عادي خبره ده ددې برخې په اړه په وړاندې شوي استدلال کې هڅه شوې تر څو د رایو پیر او پلور د ټاکنو په مالي چارو کې د سمونونو د راوستو په لړ د بنسټیز ټکي په توګه ومنل شي. هغه رپوټونه چې فیفا د رایو د پیر او پلور په اړه چمتوکړي ددې ښکارندوي کوي چې د١٣٨٩ کال دولسي جرګې په ټاکنو کې په نامخامخ دول درایو پیر تر سره شویدی.لکه پر نوماندانو درای ورکونې دکارتونو پلورل، ملکانو، ملاامامانو او قومي مشرانو ته د خلکو نه رایو درتر لاسه کولو په موخه دپیسو ورکول تر څو دیو کاندید ملاتړ وکړي.

د وړاندیزونو لنډیز: په دې رپوټ کې وړاندې شوي وړاندیزونه، دفیفا له لورې د ګمارل شویو ٥٤ سیمه بیزه څارونکو له لورې چې د ټاکنیز بهیر او دټاکنو په ورځ یې څآرنه کړې له لورې پر ورکړل شوې معلومات چمتو شویدي.دفیفا له لورې په وړاندي شوې وړاندیزونه په هغه درې برخوکې چې پورته یې یادونه وشوه.او همدارنګه دټاکنیزو منډو ترړو په مالي مسایلو پورې تړاو لري.

د بیلګې په توګه، فیفا وړاندیز کوي چې د کمپاینونو د مالي چارو نه دڅارنې کچه او د هغه څارنې کچه چې دټاکنو دخپلواک کمیسون دڅارونکو له لورې ترسره کیږي لوړه کړای شي. دا دکمپاینونو دکالي چارو دسمون پر لور تر ټولو مثبت ګام دی چې ښکیلو خواو(دټاکنو خپلواک کمیسون، دټاکنو دشکایتونوداوریدو کمیسون ،دولتي چارواکو)ته موقع ورکوي تر څو سمې کړنلارې رامنځته او وړ سمونونه پلي کړي او په حقیقت کې په ټاکنو کې دپیسو درول په اړه څارنه وکړي ،فیفا وړاندیز کوي چې هڅه دې وشي چې دټاکنو دمالي چارو په اړه دمنل شویو کړنلارو نه دنوماندانو دپوهې کچه لوړه شي تر څو نوماندان (اړ شي) چې په دې برخه کې موجود و کړنلارو منلو ته غاړه کیږدي

له بله پوله فیفا وړاندیزکوي چې، دټاکنو خپلواک کمیبسون دې دهغه کارکوونکو دپوهې کچه چې دکړنلارو دپلې کولو څآرنه کوي هم لوړه کړي.فیفا دټاکنو دخپلواک کمیسون، دشکایتونو داوردیو کمیسون او پولیسو نه غواړي چې تر څو دموجودو کړنلارو په پلې کولو سره همغږي وکړي.دا به ددې لامل شي چې دموجود ټاکنیزو کړنلارو نه دسرغړونې مخه ونیول شي او په پایله کې تر یو بریده دیو شمیر منفي کړنو چې له دولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخیستنې او دغه راز درایو په پیر کې رځي مخه ونیول شي.

په پای کې فیفا پوهیږي چې ،مدنې ټولنه کولاې شي چې په کړنلارو کې د شتو تشو او نیمګړتیاو په پیژندلو کې مرسته وکړي او دهغو د له منځه وړلو لپاره هم وړ او مناسبې لارې چارې وړاندې کړي. د مدني ټولنو او څارونکو نادولتي بنسټونو درول غښتلي کول ددې سبب ګرځئ چې دټاکنیز نظام دڅارنې په موخه ګڼ مثبت ټکي رامنځته شي هغه مثبت ټکي چې پر مټ یې وکولاې شو دحساب ورکونې او روڼتیا کچه لوړه کړو.ددې موندنو په پایله کې دوړاندېزونو یوه ټولګه وړاندې کیږي چې په افغانستان کې دحساب ورکونې دروڼتیا،سیاسي فعالیتونو او دغه راز دمالي چارو دپراختیا او بډاینې لپاره اغیېزمن تمام شي.

په افغانستان کې د۱۳۸۹ کال ټاکنې دولسي جرګې دغړو د ټاکنې په موخه د وږي په ۲۷مه تر سره شوې. دا ټاکنې په حقیقت کې په افغانستان کې د مالي چارو دسمونې پر لور څلورمه هڅه وه دټاکنو دتنظیم ګډ کمیسون(JEMB)په ۱۳۸۳ او ۱۳۸٤ کالونو کې دولسمشرۍ او ولسي جرګې دټاکنودتر سراوي لپاره جوړ شو.او دټاکنو خپلواک کمیپسون دولسمشرۍ او ولسي جرګې دټاکنو په موخه په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹کې رامنځته شو دټاکنو خپلواک کمیسون او دټاکنو دتنظیم ګډ دفتردواړو مسولیت درلودتر څو دټاکنو بهیر تنظیم کړي په ځانګړې توګه دمالي چارو په اړه کړنلارې د۱۳۸٤ کال دټاکنو دقانون په ۳۸ ماده کې وضع شوې دا ماده دټاکنو پرمهال دټاکنیز بهیر شننه کوي .دټاکنو خپلواک کمیسون (دولسي جرګې دنوماندانو دمالي چارودثبت او وړاندې کولو کړنلاره) چمتو کړه چې په دریمه ماده کې یې دنوماندانو لپاره مالي کړنلارې وضع کړي او نوماندان دې ته اړ باسي چې دټاکنیزو منډو ترړو پرمهال دخپلو مالي لګښتونو رپوټ د٤٥مادې پر بنسټ ثپت او وړاندې کړي.خو تر اوسه پورې پر مالي چارو دڅارنې په اړه دنادولتي بنسټونو له لورې هیڅ ډول جدي ګام نه دې پورته شوی .په افغانستان کې دمالي چارو په اړه دمحدودې تجربې په پام کې نیولوسره د۱۳۸۹کال دټاکنو دمالي چارو دثبت او په اړه پیې درپوټ ورکول ددې شونتیا پیدا کوي چې دهغې نه په ګټه اخیستنه دټاکنیزو کمپاینونو دمالي چارو اغیزې او ننګونې او دغه راز په افغانستان کې دټاکنیزوبهیر دروڼتیا چارې وڅیړو.فیفا یو کورنې خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې موخه یې پر ټاکنیزو چارو څارنه ده فیفا په دې برخه کې هڅه کوي چې ځان ډاډه کړې چې په افغانستان کې ټولې دموکراتیکي چارې په رڼه توګه دښاریانو په ګډون دیوې ښې او سالمې ادارې له لورې پر مخ درومي دهغه بیلابیلو فعالیتونو پر بنسټ چې قیقا تر سره کړي ،هڅه شوې چې تر څو ښه کړنلارې رامنځته شي ،له ټاکنیزو چارو نه څارنه تر سره شي او خلک وهڅول شي چې دټاکنو پورې اړوند مسایلو کې پراخه ونډه واخلي او په ټاکنیز بهیر کې روڼتیا او حساب ورکونې ته وده ورکول شي دا پروژه فیفا ته موقع ورکوي چې تر څو دټاکنو دبهیر دیوڅارونکي بنسټ په توګه خپلې اوسنۍ وړتیا لوړه کړي تر څو وکولاې شي دافغانستان دټاکنو دبهیر دمالي چارو نه څارنه وکړي.

(د۱۳۸۹کال دولسي جرګې دټاکنو دمالي چارو څارنه) لومړنې پروژه ده چې په افغانستان کې پلې کیږي ددې ازمایښتي پروژې دپلې کیدو سیمې دکابل د(بګرامیو ولسوالۍ) سربیره دکابل ښار ۱٦ ناحیې وې کولاې شو ووایو چې دا پروژه په افغانستان کې د راتلونکو ټاکنو په بهیر کې د ټاکنو د مالي چارو د څارنې د پراختیا پر لور یو مثپت ګام وي.

ددې پروژې څارنیز فعالیت د کمپاینونو د مالي چارو د څرنګوالي مطالعه او په ځانګړې توګه له دولتي امکاناتو نه ناوړه استفاده، د رایو پیر او همدارنکه تبلغاتي خبرتیاو او رسنیز کمپاین ته ځانکړې شوې وه. دکمپاین پرمهال مالي لګښتونو څرنګوالي ته په پام سره ،دټاکنو پرمهال دمالي لګښتونو ثبت او دغه راز دکمپاینې نامشروع لګښتونو دڅرنګوالي له مخې فیفا کولاې شي وړاندیز وکړي چې دهغې پر مټ دټاکنو په (کړنلاو) کې مثبت بدلونونه رامنځته شي.

خوغواړو ټینګار وکړو چې په دې پروژه کې د فیفا څېړنې په دې معنا نه دي چې د ځانګړو کړنلارو چې دټاکنو په برخه کې موجودې دي اغیزمنتوب یې ارزولې وي، بلکې دځنو نوماندانو دکالي لګښتونو دارزونې په پایله کې موندلاې شو چې ایا دهغوې لګښتونه دموجودو کړنلارو سره سمون خوري که نه.پر دې پوهیدل چې پیسې په څه ډول لګول شویدي . موږدټاکنو دمالي لګښتونو په اړه دکړنلارو ارزونه کولاې شو.

فیفا ځانګړو ټکو ته ځیرنه کړې ده چې له موږ سره مرسته کوي تر څو پوه شو چې په کمپاینونو کې پیسې په څه ډول لګول شویدي. او آیا دا لګښتونه د ټاکنو د خپلواک کمیسون درپوټ ورکونې له کړنلارې سره سمون خورې که نه. او تر څنګ له دولتي امکاناتو نه ناوړه ګټه اخیستنه او د رایو پیر او پلور څه ډول و. د څیړنې دډول (میتودولوژي) په برخه کې چې لاندې وړاندې کیږي په دې برخه کې د تر لاسه شویو معلوماتو څرنګوالي وړاندې کوي.

لطفا په یاد ولرئ چې ددې رپوټ د موخو په پام کې نیولو سره د پام وړ نوماندانو او دولتي چارواکو چې مرکې ورسره شوي نومونه ندي خپاره کړي.

فیفا د څیړنې بیلابیلې لارې چارې وکارولې تر څو دهغې نه په ګټې اخیستنې ددې پروژې له بیلابیلو زاویو پوه شي هغه زاویې چې دکمپاینونو دمالي چارو دڅیړنې په دې پروژه کې څیړل شویدي. دمعلوماتو دترلاسه کولو لارې چارې عبارت دي له مخامخ څارنې،مرکې او دنوماندانو دلګښتونو دارزونې وړاندیزونه.

فیفا دنوماندانو دمالي لګښتونو دڅارنې لپاره،فیفا دپلټنې ځینې لارې چارې پلې کړې چې په دې برخه کې موجودې وې او د(لګښتونو برابره څارنه)(PET) نومیږي چې په دې کې تر لاسه شوي معلومات دډیرې ځیرنې په مومه پرتله کیږي.دا چاره دمخامخ سیمه ییزه څارنې له لارې شونې ده.دمنځنې حد پوسترونو او خبرتیاو دچاپ په موخه دچاپ له دولتي او ناودولتي مرکزونو سره اړیکې ونیول شوې همدارنکه دشخصي هوټلونو،دولتي سالونونواورستورانتونو له خاوندانو سره اړیکې ونیول شوي تر څو دنوماندانو مالي لګښتونه په سمه بڼه وارزول شي.ددې معلوماتو په پاې کې دلګښتونو د منځنې دترلاسه کولو په موخه څیړنه وشوه او هر نوماند دمالي لګښتونو دڅارنې په موخه ترې ګټه واخیستل شوه.ددې معلوماتوپه پاې کې د(برابر لګښت دڅارنې)دپلې کولو په موخه فیفا دهغه نوماندانو مالي رپوټونو ته چې دټاکنو خپلواک کمپسون ته وړاندې شوي و اړتیا درلوده.زموږ

له څېرنوو سره دنوماندانو دسپارل شویو مأي رپوټونوپرتلې ددې آمکآن برآبر  کړ چې موجود توپیرونه په ډاګه کړي.همدرانګه دې ته ورته چلند دنوماندانودرسنیزو لګښتونووپه برخه کې هم ترسره شو

په دې کچه له پیچلې موضوع سره دنوماندانو دټولو کړنو  څارنه خورا ګران کار دې او دداسې یو څېړنیز چلند اړتیا محسوسوي چې څه ناڅه پر مخامخ څارنه ،خو تر څنګ یې په ټاکنو کې دبیلابیلو اړخونوسره پر مرکو ولاړ وي.یوازې هغه لیدنې چې دڅارونکو ،سیمه ییزه همغږه کوونکواو شنونکو له لوریتر سره و ثبت او رپوټ یې ورکړل شو،فیفا په دې برخه کې دمعلوماتودترلاسه کولو په موخه ځانګړې فورمې چمتوکړې چې لګښتونو،دټاکنو دخپلواک کمیسون له لورې دوړاندې شویو کړنلارو په پام کې نیولو او  دغه راز ددولتي امکاناتو نه ناوړه استفاده او د رایو پیر ته ځانګړې شوې وی.

جغرافیايي تمرکز(څېرنه)

له جغرافیايي پلوه دې پروژې دکابل ښار په شپاړیو ناحیو او دکابل په یوې ولسوالۍ کې تمرکزکړې و دا له دې امله چې دا یوه ازمایښتې او نوښتي پروژه وه دا ځکه چې دفیفا مرکزي دفتر په کابل ښار کې و، نو په دې ښار کې څارنه هم اسانه او شونې وه .ددې تر څنګ دولسمشرۍ په تیرو۲۰۰۹ ټاکنو کې ډیرې درغلۍ په همدې ولسوالۍ او شپاړسو ناحیو کې ثپت شوې وې.او دا چې  دراې اچونې کوم مرکز تر څارنې لاندې ونیول شي هم له همدې ډول نه کار واخیستل شو.دڅارنې په حوزه کې فیفا هماغه مرکزونه تر څارنې لاندې ونیول چې دولسمشرۍ په ټاکنو کې پکې ډیره درغلي شوې وه.

د وخت پړاو

څارنه د (۱۳مۍ۲۰۱۰) نه چې د نوماندانو لومړنې نوملړ خپور شو او ددې لپاره چې نوماندان تر ټاکلې نیټې وړاندې ټاکنیز کمپاین پیلوي که نه پیل شوه ،دڅارنې اصلي پړاو دکمپاینونو له پیل سره سم پیل شواو دټاکنو په ورځ پاې ته ورسید.دټاکنو دټولې پروسې نه دسمې څارنې په موخه دا پروژه په درې پړاوونو وویشل شوه.

الف: تر ټاکنو وړاندې پړاو.

ب: دټاکنو پړاو.

ج: دټاکنو په ورځ

دا څارنه په درې پړاوونو کې تر سره شوه تر څو موږ وکولاې شو د ټاکنیزو څارونکو د پوهې دکچې دلوړوالي او دهغوې دموخو دتر لاسه کولو او دټاکنو په هر پړاو کې دټاکنیوو سرغړونودڅارنې شونتیا برابرول په دقیق ډول وڅیړو او ترې تر لاسه شوي معلومات دهماغه دورې اړوند کړنلارو سره مطابقت ورکړو.

الف: تر ټاکنو وړاندې پړاو:

تر ټاکنو وړاندې پړاو د۱۳۸۹ په ټاکنو کې ددمۍ۲۵-۲۰۱۰ نه چې دنوماندانو نوم لیکنه پیل شواو دجون۲۲-۲۰۱۰پورې هغه مهال چې دټاکنو خپلواک کمیسون دنوماندانو وروستې نوملړ وړاندې کړپاې ته ورسیده.په دې دروه کې،نوماندان له کمپیان کولو منع شوي و او هرهغه عمل چې کمپاین ګڼل کیده ټاکنیزې سرغړونې شمیرل کیدې.ددې پروژې دڅارنیزو موخو پر بنسټ ،فیفا دنوماندانو دټاکنیزو مالي لګښتونودڅارنې په موخه او دکمپاین له پیلېدو دمخه دنوماندانو دمالي سرغړونودڅارنې په موخه خپل کار پیل کړ.

په دې موده کې ،فیفا ۲٦ تنه دڅارونکو په توګه وګومارل چې هغوې دڅارنې چارې په ۱٦ ښاري حوزو او دکابل ښار په خواوشاه کې دپروت یو اداري واحد کې پیل کړي ځآرونکو بیلابیل لستونه،او دټاکنیزو کمپاین دفترونو،ټاکنیزو غونډو،دپوسترونو دچاپ،ددولتي چارواکو مرکې او دنوماندانو سره پر مرکو چمتو شوي وراټول کړل.دفیفا ځآرونکو اودپروژې همغږې کوونکودټولو لستونو او رپوټونو دسپارلو په موخه په اونۍ کې یو ځل لیده کاته کول.دا لستونه وروسته دپروژې دهمغږي کوونکو پر وړاندې په ځانګړې کمپیوټري سیستم کې ځاې پرځاې کیدل

له ټاکنو وړاندې کمپیاین په موده کې یفا له یو شمیر نوماندانو او دولتي چارواکو سره مرکې کړي او له ځینو دولتي ادارو یې څارنه کړې .له اته دولتي ادارو څارنه شوې او دټکنو دخپلواک کمیسون له دوه او نهو دولتي چارواکو سره مرکې کړیدي موندنې او غبرګونونه په دقیق ډول په لستونو کې ثبت شو او دفیفا ددې اطلاعاتو او څېرنو نه ګټه واخیستل شوه.

ب: د ټاکنیزو سیالیو پړاو:

په دې پړاو کې فیفا خپله څارنه د۲۳جون۲۰۱۰ نه چې دټاکنو د نوماندانو وروستې نوملړ په ډاګه شو پیل شوه او یوازې دټاکنو له ورځې یوه ورځ دمخه د سپټمبرو ۱٦-۲۰۱۰ پاې ته ورسیده.فیفا ددې دورې لپاره ۵۲ څارونکې له (درې تنو همغږې کوونکو) سره یو ځاې وګومارل.او هغوې ته یې د درې ورځو لپاره د۱۳۸۹ کال دولسي جرګې دټاکنو دنوماندانو پر مالي لګښتونو دڅارنې زده کړه ورکول شوه.ددې پړاو جغرافیايي څارنه هم دهماغه مخکینې ډول په څیر پر خپل ځاې پاته شوه.

دنوماندانودوروستي نوملړ داعلان سره سم فیفا ۲۲ تنه نوماندان دڅارنې لپاره ځانګړي کړل چې دټاکنو ټول مالي لګښتونه یې وڅارل شو او دهغه رپوټونو سره پرتله شول چې ددوی له لورې ټاکنو خپلواک کمیسون ته وړاندې شوي و دڅارنې لپاره ددې نوماندانو غوره کول دلاندې څلورو ارزښتونو له مخې تر سره شول.

- یوازې هغه نوماندان چې ډیر سیالان ګټل کیدل غوره شول(۱)
- هغه نوماندان چې داوس لپاره دولسي جرګې غړي و او بیا یې ځانونه نومولي و غوره شو.
- ښځینه او نارینه نوماندان باید په دې نوملړ کې شامل شوي واې.

---

۱- پریکړه داسې وه چې پروژې دلوړې او ټیټې وړتیا لروونکو نوماندانو د لګښتونو دپرتلې وړتیا نه درلوده او دا موضوع د پروژې دبیان شویو موخو کې نه وه شامله شوې.

- همدارنګه باید دولت پلوي او اپوزیسون پلوي نوماندان په دې نوملړ کې شامل شوي واې.

دفیفا له لورې دا غوره کول دجون په میاشت کې تر سره شول. په دې اړه پریکړه کول چې کوم نوماند جدي سیال ګټل کیږي پریکړه کول خورا ګران کار و خو ٤۸ سلنه غوره شوي نومآندآن په ټاکنو کې بریالي شول په ولایتونو کې د٥سلنه بریالي نوماندانو په پرتله لاندې جدول دیادو نوماندانو غوره کول دنورو لارو چارو نه توضیح کوي.

لومړی جدول: دغوره شویو نوماندانو ویشنه

| جنس | | دولت پلوی/ اپوزیسیون | | | هغه نوماندن چې برحال استازي ؤ | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نارینه | ښځینه | دولت پلوي | خپلواک | اپوزیسون | هو | نوي نوماندان |
| ۸٦% | ۱٤ % | ٤۷ % | ٦% | ٤۷% | ٥٥% | ٤٥% |

دهغه میرمنو شمیر چې دڅارنې لپاره غوره شوې دنارینه و په پرتله لږ دی چې دنوماندانو په وروستي نوملړ کې راغلي دي خو دا توپیر ډیر لږ دی (په کابل کې ۱٥ سلنه او په نورو سیمو کې ۱٦ سلنه میرمنې دي)نوماندان همدارنګه ددولت او اپوزیسون تر منځ په مساوي ډول ویشل شوي(دا ډلبندي ددولت پلوه ګوندونو دنه شتون له امله ،دشخص دفکر دډول له مخې شویده)په دې ټاکنه کې داوسنۍ ولسي جرګې داستازو شمیر ډیر دی.خو دا لاسته راوړنه تر ډیره طبیعي او ددې پروژې دټاکنو پورې اړه لري .له دې امله چې داډول نوماندان تر ډیره جدي سیالان وي داوسنۍ ولسي جرګې استازي چې په دې نوملړ کې راغلي دي ددولت پلویان،دمخالف لوري پلویان دي چې ښحې ا و نارینه پکې شامل دي

فیفا همدارنګه له یو شمیر نوماندانو ،دټاکنو دخپلواک کمیسون له چارواکو،او دولتي چارواکو سره مرکې کړې له وړاندې نه دچمتو شوي نوملړ نه په ګټه اخیستنه له هغوې سره پر ټاکنیزو چارو دڅارنې او په ټاکنیز کمپاین پورې اړوند مسایلو مرکې شویدي.دمرکو پرمهال نوماندان دټاکنیز کمپاین دمالي لګښتونو دکړنلارو نه دپوهاوي په اړه تر ارزونې لاندې نیول شویدي او له هغوې نه په دې اړه چې ایا دټاکنیزو کمپاینونودمالي چارو دکړنلارو په اړه معلومات لري او که نه پوښتنې شویدي.

د رسنیو څارنه

فیفا همدارنګه دیوشمیر ډله ییزه رسنیو څارنه هم وکړه ددې څارنې موخه درسنو ناپلوي او یاهم پلوي توپ و (چې دټاکنو دخپلواک کمیسون دکړنلارې د۷ مادې سره له دولتي امکاناتونه دناوړه استفادې برخه ګڼل کیږي)درسنیو څارنه له کاندیدانو نه دتبلیغاتي چارودترسراوي په بدل کې مالي امکانات تر لاسه کوي پر رسنیو دڅارنې پروژې خپل کار دجون پر ۱۹ پیل کړ او ددې پروژې ٦غړو درسنیو دکړنلارو او رسنیزو سرغړونو په اړه زده کړه تر لاسه کړه .هغوې ته همدارنکه دکمپیوټرې معلوماتو دزیرمې(دیتابیس) او دغه راز دترلاسه شویو تحلیلونو دپایلو په اړنه روزنه ورکړل شوه .پر فعالو تلویزیونونو اونورو رسنیو دڅارنې چارې دجولاې پر۲۷ پیل او دسپتمبر تر ۱٥ دوام وکړ.

درسنیو دڅارنې پرمهال دوه نادولتي تلویزیوني چینلونه(طلوع اریانا) او یو دولتي تلویزیون(RTA) تر څارنې لاندې ونیول شول همدارنګه دکابل ښار یو شمیر چاپي ورځپاڼې(راه نجات،انیس،کابل اونیزه او واصل اونیزه)تر څیړنې لاندې ونیول شوې د۲۰۱۰ کال ټاکنیز کمپاینونو پرمهال (RTA) ټولې خپرونې ثبت او وروسته وارزول شوې خو دطلوع او اریانا تلویزیونونوټاکنیزې خپرونې دمالي لګښتونو داټکلونې له مخې وارزول شوې ددې تر څنګ دې پروژې دوه نور نادولتي تلویزیوني چینلونه(نورین اوشبکه یک)تر ارزونې لاندې ونیول .

رسنیزه ځیرنه پر نړیوالو معیارونو ولاړه وه.ددې رسنیو خپروني به دمابنام له شپږو دشپې تر لسو بجو پورې ثپت اوهر دوه ورځې وروسته به ددرې کسیزو پلاوې له لورې تر ارزونی لاندې نیول کیدې. وروسته به دا معلومات په کمپیوترې زیرمو کې ساتل کیدل درسنیزې څارنې پورې اړوند ټولې خپرونې به لومړې ثبت او وروسته زیرمتون (ارشیف) ته استول کیدې او ددې برخې دچارواکي تر څارنې لاندې به ساتل کیدې.

ج: د ټاکنو ورځ:

دټاکنو دمالي لګښتونو وروستي پړاو دټاکنو په ورځ تر سره شو.او دفیفا څارونکو دهغه چارو جې دټاکنو په ورځ دراې ورکونې په مرکزونو کې تر سره کېدې څارنه وکړه.فیفا دټاکنو په ورځ دځآرنې لپاره هماغه مرکزونه غوره کړل چې دولسمشرۍ دټاکنو په ورځ پکې تر ټول ډیره درغلي شوې وه.دفیفا څارونکې دټاکنو په ورځ په مخامخ ډول درایو دپلور او پیر شاهدان و.او هم یې دا مسله درایه ورکونکو اودنوماندانو له استازو سره په مرکو کې ومونډله.دفیفا څارونکې همدارنکه په مخامخ ډول له دولتي امکاناتو نه دګټې اخیستنې شاهدان و او یا یې ددې بیلګې دمرکو پرمهال تر لاسه او ثبت کړې.

دڅارنې ددې پروژې یوه تر ټولو بنسټیزه موخه داده چې وپوهیږي ایا دولسي جرګې د۱۳۸۹ کال دټاکنو نوماندان دټاکنو دخپلواک کمیسون له لورې دکمپاین دمالي چارو په اړه دچمتو شویو کړنلارو نه خبر دې که نه او دا په پام کې نیسي که نه.له بله پلوه وکولاې شو چې په دې برخه کې دټاکنو دخپلواک کمیسون کړنې هم تر څارنې لاندې ونیسو 2. په دې پرخه کې دمالي چارو په اړه رپوټ ورکول او داچې نوماندانودټاکنو پرمهال څه کولاې شو او څه یې نه شو کولاې رانغاړي هغه څه چې په دې برخه کې تر لاسه شوي دهغه چلند له مخې لاسته راغلي چې پورته یې یادونه وشوه او دټاکنو دخپلواک کمیسون له لورې دټاکنو وړاندې دټاکنو په ورځ او له ټاکنو وروسته چمتو شویو کړنلارو اوارزونې سره سمون خوري که نه .

------------------------

2. دکمپاین دمالي چارو دکړنلارې ۲ بند وړاند وینه کوي چې نوماندان باید دنوم لیکنې پرمهال دخپلې منقول او نا منقول شتمنې په اړه کره معلومات په هغه ځانګړو فورمو کې چې دټاکنو دخپلواک کمیسون له لورې چمتو شوي ولیکي (په دې برخه هغه شتمنې راځي چې تر درې سوه زره او یا له هغه پورته وي که دا شتمنې په هیواد کې دننه اویا له هیواد نه دباندې وي)دراې ورکونې له پیل نه ٤٨ ساعته وړاندې باید نوماندان دټاکنو خپلواک کمیسون ته دخپلو مالي لګښتونوپه اړه رپوټ ورکړي چې دارپوټونه بیا دټاکنو دکمیسون پر ویب پاڼه خپریدل په داسې حال کې چې هغه شتمنۍ چې کمیسون ته یې رپوټ ورکول شوې په پټه توګه ساتل کیدې.

په رسمي بڼه دکمپاین له پیل وړاندې کمپاین کول:

دفیفا څارونکو چې خپلې چارې یې په رسمي بڼه دکمپاین له پیلیدو وړاندې پیل کړې وې دا یې وموندل چې ځینې نوماندانو،خپل کمپاینونه په رسمي بڼه دکمپاین له پیلیدو وړاندې پیل کړې و.دفیفا څارونکې بریالي شول چې په دې پرخه کې د سرغړونې ٤٨ پیښې ثبت کړیپه دې پیښو کې د پوسترونو نصبول په عام المنفعه ځایونو(جوماتونو،ښوونځیو) دغونډو جوړول شامل دي همدارنګه په دې برخه کې له ټاکنو وړاندې د رایو پیر او پلور هم شامل دي.

دبیلګې په توګه ،دفیفا دڅارونکو درپوټ له مخې دکابل ښار په ۱۱ ناحیه کې یو نوماند دابو مسلم خراساني په جومات کې ټاکنیز کمپاین له رسمي پیل وړاندې خلکو ته وینا کوله همدارنکه دکابل ښار دلومړۍ ناحیې دقاضي باغ په سیمه کې یوه غونډه جوړه شوې وه چې ۷۰ تنو پکې برخه اخیستې وه.دغه راز دفیفا دڅارونکو دتر لاسه شویو معلوماتو له مخې دکابل ښار په ۸ او ۱۳ ناحیه کې دځینو نوماندانو پوسترونه او انځورونه لګیدلي و.په زړه پورې داوه چې دیو نوماند په انځور کې دهغه ټاکنیزه شمیره څرګندیدله په داسې حال کې چې هغه مهال دټاکنو دخپلواک کمیپسون له لورې وروستي نوملړ هم نه خپور شوې.

هغه نوماندان چې مالي رپوټونه یې دکمیسون له لورې خپاره شوي و خپل لګښتونه یې دهغه په پرتله چې تر سره کړي یې ولړ ښودلي و.

ټول نوماندان دې ته اړ و چې دخپلو لګښتونو او شتمنیو په اړه چې له کومه ځایه یې تر لاسه کوي رپوټ دټاکنو خپلواک کمیسون ته وړاندې کړي دټول هیواد په کچه ۸۸سلنه نوماندانو خپل رپوټونه کمیسون ته وسپارل هماغه ډول چې په میتودلوژي کې یادونه وشوه فیفا ۲۲ تنه نوماندان دڅیړنې لپاره غوره کړل او دهغوې مالي لګښتونه یې وځآرل تر څو دهغه رپوټونو کره والي وارزوي چې دوې یې کمیسون ته وړ اندې کوي.

په دغه ۲۲ تنوکې له یوه پرته نورو ټولو دخپلو مالي لګښتونو رپوټونه کمیسون ته وړاندې کړل چې په دې رپوټونو کې دښودل شویو لګښتونو منځنې حد یوملیون او ٥٦٨ زره افغانیو(٣٤٦٢٩) ډالرو ته رسیده خو په دې رپوټونو کې له (۳۰۷۰۰۰) افغانیو(٦٧٨٠) ډالرو نه تر (اوه ملیونه او ۳۸۵ زره افغانیو) (۱٦۳۰۹٦) ډالرو توپیر موجود و.موږ باید دې ته پام وکړو چې کمیسون ته دوړاندې شویو رپوټونو لګښتونه ښایي تر هغې لوړ وي چې فیفا یې څارنه کړې دا ځکه چې فیفا دنوماندانو دټول لګښتونو په سمه بڼه څارنه نده کړې.

کله چې موږ وړاندې شوې رپوټونه دفیفادموندنو سره پرتله کوو دې پایلې ته رسیږو چې ډیری دغو نوماندانو خپل رپوټونه په سمه بڼه ندي وړاندې کړي.لاند ې جدول راښایي چې ٦٢ سلنه نوماندانو خپل لګښتونه تر هغې کم ښودلي چې دفیفا څارونکو دهغوې دمالي لګښتونو په توګه ثبت او کمیسون ته یې رپوټ ورکړې دی.فیفا یوازې دانځورنو،پوستورونو ،تبلغاتي پاڼو درسنیو له لارې تبلیغات ،په شخصي تالارنو کې غونډې او دډوډۍ

خوړل ځارلي دي په داسي حال کي چې فيفا يوازې دکابل له ۳۲ اداري واحدونوونه يوازې ۱۷ اداري واحدونه ځارلي دي.دنوماندانو له لورې هر هغه وړاندې شوې رپوټ چې پکې خپل لګښت دهغه څه په کچه جې فيفا يې په اړه معلومات تر لاسه کړي کم ښودلي دا رپوټ سم او کره نه دي په منځني توګه هغه لګښت چې فيفا يې په اړه معلومات تر لاسه کړي او هغه څه چې نوماندانو يې په اړه کميسون ته رپوټ ورکړې ۳مليونه او ۷۲۰ زره افغانۍ(۸۲۱۵۵) ډالره يا ۳۷۵ سلنه توپير ښيي .

دويم جدول: د ځارل شويو لګښتونو پرتله له هغه سره چې د نوماندانوله لورې کميسون ته وړاندې شوې.

| ګڼه | خبرتياوې،انځورونه او پوسترونه | رسنۍ تلويزيونه او ورځپاڼې | پيښني | ټولې افغانۍ | کميسون ته ورکړل شوی رپوټ | توپير | سلنه | شوي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 2,231,447 | 274,500 | 651,200 | 3,157,147 | 785,420 | *2,371,727* | %302 | |
| 2 | 3,401,682 | 168,750 | 2,022,100 | 5,592,532 | 2,500,000 | *3,092,532* | %124 | |
| 3 | 19,950 | 33,750 | 0 | 53,700 | 306,550 | *252,851-* | -%82 | |
| 4 | 7,829,986 | 0 | 26,000 | 7,855,986 | 750,000 | *7,105,986* | %947 | |
| 5 | 3,371,800 | 424,500 | 952,035 | 4,748,335 | 860,000 | *3,888,335* | %452 | |
| 6 | 783,228 | 0 | 0 | 783,228 | 1,700,000 | *916,773-* | -%54 | |
| 7 | 10,915,901 | 117,000 | 285,940 | 11,318,841 | 1,798,000 | *9,520,841* | %530 | |
| 8 | 454,767 | 398,340 | 205,325 | 1,058,432 | 1,003,300 | *55,132* | %5 | |
| 9 | 1,080,014 | 0 | 0 | 1,080,014 | 740,000 | *340,014* | %46 | |
| 10 | 3,092,346 | 1,196,250 | 805,500 | 5,094,096 | 2,180,000 | *2,914,096* | %134 | |
| 11 | 2,708,560 | 18,000 | 2,767,500 | 5,494,060 | 390,000 | *5,104,060* | %1309 | |
| 12 | 953,974 | 0 | 162,500 | 1,116,474 | 1,180,000 | *63,527 -* | -%5 | |
| 13 | 866,361 | 77,565 | 0 | 943,926 | 511,500 | *432,426* | %85 | |
| 14 | 1,147,682 | 0 | 10,000 | 1,157,682 | 1,280,000 | *122,318-* | -%10 | |
| 15 | 5,709,385 | 0 | 457,400 | 6,166,785 | 2,000,000 | *4,166,785* | %208 | |
| 16 | 5,683,479 | 0 | 73,080 | 5,756,559 | 3,143,200 | *2,613,359* | %83 | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 17 | 835,734 | 0 | 0 | 835,734 | 7,384,500 | *6,548,767-* | %89- | |
| 18 | 534,421 | 17,625 | 89,750 | 641,796 | 1,500,000 | *858,204-* | %57- | |
| 19 | 922,911 | 211,125 | 12,000 | 1,146,036 | 1,450,000 | *303,964-* | %21- | |
| 20 | 7,442,680 | 288,720 | 107,725 | 7,839,125 | 1,064,000 | *6,775,125* | %637 | |
| 21 | 159,115 | 72,750 | 0 | 231,865 | 400,000 | *168,135-* | %42- | |

دې ته په پام سره چې فیفا د نوماندانو دلګښتونو یوه برخه تر څارنې لاندې نیولې ده ،ویلاې شو چې پورتنې جدول هغه دقیق توپیر چې دورکړل شویو رپوټونو تر منځ موجود دې نه شي وړاندې کولاې که دا ومنو چې دنوماندانو له لورې دورکړل شوي رپوټ او دهغوې دربښتینو لګښتونو تر منځ توپیر ۱۵ سلنه دې نودې پایلې ته رسیږو چې ددې اټکل له مخې هماغه ډول چې په لاندینې جدول کې ښودل شوي ۷٦ سلنه دپام وړ نوماندانو دلګښتونو لږ رپوټ ورکړی دی.دنوماندانو له لورې دورکړل شوي رپوټ او دهغوې دربښتینو لګښتونو تر منځ داټکلي توپیر کچه (۳٦۰۵۰۰۰) افغانۍ چې (۷۹٦۱۵) ډالر او ۳٦۲ سلنه کیږي.

دریم جدول: مقایسه

| ګڼه | خبرتیاوي،انځورونه او پوسترونه | رسنی تلویزیونه او ورځپاڼي | پیښي | ټولي افغانۍ | کمیسون ته ورکړل شوی رپوټ | توپیر | سلنه | بریالي شوي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 2,526,785 | 310,831 | 737,388 | 3,575,004 | 785,420 | 2,789,584 | %355 | هو |
| 2 | 3,851,905 | 191,085 | 2,289,731 | 6,332,720 | 2,500,000 | 3,832,720 | %153 | هو |
| 3 | 22,590 | 38,217 | - | 60,807 | 306,550 | 245,743- | %80- | هو |
| 4 | 8,866,308 | 0 | 29,441 | 8,895,749 | 750,000 | 8,145,749 | %1086 | هو |
| 5 | 3,818,068 | 480,684 | 1,078,040 | 5,376,791 | 860,000 | 4,516,791 | %525 | هو |
| 6 | 886,890 | 0 | - | 886,890 | 1,700,000 | 813,110- | %48- | هو |
| 7 | 12,360,653 | 132,485 | 323,785 | 12,816,923 | 1,798,000 | 11,018,923 | %613 | هو |
| 8 | 514,957 | 451,061 | 232,500 | 1,198,519 | 1,003,300 | 195,219 | %19 | هو |
| 9 | 1,222,957 | 0 | - | 1,222,957 | 740,000 | 482,957 | %65 | هو |
| 10 | 3,501,627 | 1,354,577 | 912,110 | 5,768,315 | 2,180,000 | 3,588,315 | %165 | نه |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 11 | 3,067,046 | 20,382 | 3,133,787 | 6,221,215 | 390,000 | 5,831,215 | %1495 | نه |
| 12 | 1,080,235 | 0 | 184,007 | 1,264,242 | 1,180,000 | 84,242 | %7 | هو |
| 13 | 981,026 | 87,831 | - | 1,068,857 | 511,500 | 557,357 | %109 | نه |
| 14 | 1,299,581 | 0 | 11,324 | 1,310,905 | 1,280,000 | 30,905 | %2 | نه |
| 15 | 6,465,039 | 0 | 517,938 | 6,982,977 | 2,000,000 | 4,982,977 | %249 | نه |
| 16 | 6,435,704 | 0 | 82,752 | 6,518,457 | 3,143,200 | 3,375,257 | %107 | نه |
| 17 | 946,345 | 0 | - | 946,345 | 7,384,500 | 6,438,155- | %87- | نه |
| 18 | 605,153 | 19,958 | 101,629 | 726,740 | 1,500,000 | 773,260- | %52- | نه |
| 19 | 1,045,060 | 239,068 | 13,588 | 1,297,717 | 1,450,000 | 152,283- | %11- | نه |
| 20 | 8,427,741 | 326,933 | 121,983 | 8,876,656 | 1,064,000 | 7,812,656 | %734 | نه |
| 21 | 180,174 | 82,379 | 0 | 262,553 | 400,000 | 430,688 | %108 | نه |

په دې برخه کې کولاې شو د دوه ځانګړو پېښو یادونه وکړو. یو نوماند رپوټ ورکړی و چې په خپل ټاکنیز کمپاین کې یې (۱۷۹۸۰۰۰) افغانۍ چې (۳۹۷۰۸) ډالره کیږي لګولي دي خو په داسي حال کې چې د فیفا څارنه په ډاګه کوي چې نوموړي یوازې د خپلو انځورنو او پوسترونو دچاپ لپاره یوولس ملیونه لګولي دي ددې نوماند له لورې د ورکړل شوي رپوټ او د فیفا له لورې دڅارل شوي لګښت تر منځ توپیر (۱۱۰۱۹۰۰۰) افغانۍ چې (۲۴۳۳۵۲) ډالره کېږي موجود دی.

بل نوماند ادعا کوله چې په خپل ټاکنیز کمپاین کې یې یوازې (۳۹۰۰۰۰۰) افغانې چې (۸۶۱۳) ډالره کیږي لګولي دي. ( دا کچه دهغه رقم نیمایي ده چې په کابل کې نوماندانو په منځنې حد کې لګولې دي)

دفیفا څارونکي اټکل کوي چې دغه نوماند تر ۲۷۰۰۰۰۰افغانۍ چې (۵۹۶۲۹) ډالره کیږي یوازې دپوسترونو او انځورنو دچاپ او غوندو جوړلو لپاره لګولي دي.دلګول شویو پیسو او رپوټ ورکړل شویو تر منځ توپیر ۱٤۹٥ سلنه دی دا دواړه نوماندان دولسي جرګې په ټاکنو کې بريالي شوي دي.

په منځني ډول د کابل نوماندان ادعا کوي چې هر یو یې ۱۰۵۹۰۰۰ افغانۍ چې (۲۳۳۸۷) ډالره کیږي لګولي دي دا په دې معنا چې د کابل د ټولو نوماندانو لګښت ٦۱٥۰۰۰۰۰۰ افغاني ۱۳،٥ ملیونه ډالره کیږي دوه پر دریمه ٦۳ سلنه نوماندانو ویلي چې هیڅ مرسته ورسره نده شوي او ټول لګښت یې له خپله جبه کړی دی

دهغه نوماندانو چې دفیفا له لورې یې لګښتونه ارزول شویدي دلګښت منځنې حد یې ۱٥٦۸۰۰۰افغانۍ چې (۳٤۸۲۹) ډالره کیږي په داسې حال کې چې ددې نوماندانودلګښتونو منځنې حد۸۱۳۰۰۰ افغانۍ ۱۷۹٥٥ ډالره کیږي

دټاکنو دخپلواک کمیسون دمالي چارو له کړنلارو نه ځان خبرونه:

له نوماندانو سره مرکې:

له ډیری نوماندانو سره چې مرکې شوې هغوې ویلي چې دټاکنودخپلواک کمیسون له لورې یې دمالي چارو په اړه هیڅ ډول معلومات نه دي تر لاسه کړي ،او همدارنګه ورته هېڅ ډول روزنه نده ورکول شوې دهغه مرکو پر بنسټ چې دفیفا له لورې تر سره شوې د ۲۲ نوماندانوپه ډلې ۱٤ تنو ویلي چې هغوې ته دمالي چارو دکړنلارو په اړه هیڅ معلومات ندي ورکول شوي دې نوماندانو یوازې درسنیو له لارې معلومات تر لاسه کړي دي چې دا معلومات هم نیمګړي دي

ډیرې نوماندان په دې اړه چې ټاکنو دخپلواک کمیسون له لورې له ټاکنیز پهیر سره همغږي دي خو هغوې ددې امله چې دټاکنو دخپلواک کمیسون کړنلارې په عادلانه توګه نه پلي کیږي اندیښنه درلوده.د۲۲ تنو له ډلې لسو تنوویل چې دټاکنو خپلواک کمیسون دکړنلارو دپلې کولو پرمهال هیڅ ډول بې پریوالي ته پام نه کوي.

همدرانګه،هغوې ددې پوښتنې په ځواب کې چې ایانوماندانودټاکنیز کمپاین پرمهال له دولتي امکاناتو نه کار اخیستې که نه له ځواب ورکولو ډډه کوله او یو شمیر ویلي چې دولتي امکانات یې نه دي کارولي دا څکه جې ددوې په وینا دا دټاکنیز اصولو خلاف عمل دې.

دټاکنیزو مبارزه دځاې په اړه په کابل کې یوشمیر نوماندانو وویل چې هغوې کورونه په کرایه نیولي دي ځینوویل چې کورونه یې په کرایه نه دي نیولي بلکې دخپلو او خپلوانو له کورونو نه یې دټاکنیزو دفترونو په توګه کار اخیستې.ځینو نوماندانو دکابل په بیلابیلو سیمو کې دفترونه پرانستې و خو ځینو نورونو بیا دمالي ستونزو له امله یوازې په ځینو سیمو کې دفترونه درلودل.

ددې تر څنګ، مرکه شویو نوماندانو ویل چې دوې په ټاکنیزو کمپاینونو کې دوه ډوله خلک کارولي دي لومړۍ ډله زده کوونکي محصلین او دنوماندانو خپلوان اودوستان و او دویمه ډله هغه خلک و چې میاشتنې معاش ورکول کیده او پیسو په بدل کې یې له دوې سره کار کاوه.

په پاې کې له نوماندانو وپوښتل شول چې خپل ټاکنیز کمپاین یې څه دول پر مخ بیوه هغوې په ځواب کې وویل چې دغوندوجوړلو،پوسترونو لګولو،وړو کارتونو دویش،درسنیو،او دغه راز دتلیفونې پیغامونو داستولو له لارې یې خپل کمپاین کاوه.

د ټاکنو د خپلواک کمیسون له چاروکو سره مرکې:

فیفا دټاکنو دخپلواک کمیسون له چاروکو سره دهغوې دکړنو لوژستیکي مواد و چمتو کولو،دنوماندانو پر کالي چارو دڅارنې او په ټوله کې د تاکنیز بهیر داداره کولوپه اړه مرکې کړي ددې کار بنستیزه موخه داوه چې ایا د ټاکنو خپلواک کمیسیون نوماندانو ته دټاکنیزو کړنلارو په اړه معلومات ورکړي که نه؟

د ټاکنو دخپلواک کمیسون چاراوکو چې مرکې ورسره شوي ویلي چې کمیسون د ټاکنو په اړه ټول اړین معلومات په یوه ټولګه کې چمتو او نوماندانو ته یې سپارلي دي چې په دې معلوماتو کې اړوند فورمې، دمالي چارو په اړه رپوټ ورکول،اوله رسنیو نه ګټه اخیستل پکې شامل دي په مرکو کې دا هم ویل شوي چې دا معلوماتي ټولګې ټولو نوماندانو ته رسول شوي او ددې تر څنګ ورته نورې لارښونې هم شویدي.

د ټاکنو د کمیسون چاراوکو چې مرکې ورسره شوي دا هم ویلي چې ځینو نوماندانو چې له دې کړنلارو یې سرغړونه کوله د تلیفون له لارې ورته لارښوونه هم شویده.

همدارنګه ددې کمیسون چاراوکو ویلي چې په کمییسون کې د رسنیو داداره کولو څانګې په رسنیو کې د مطبوعاتي کنفرانسونو، ګردي میزونو او خبرتیاو له لارې هم نوماندانو ته اړین معلومات وړاندې کړیدي.

دټاکنودکمیسون چاراوکو له نوماندانو سره په مرکو کې درابرسیره شویو مسایلو په ځواب کې دخپلو مرکو پرمهال وویل چې هغوې ټولو نوماندانو ته په یو ډول (مساوي) خدمتونه وړاندې کړیدي.ددې تر څنګ دټاکنو خپلواک کمیسون هڅه کړې وه چې دولسي جرګې نوماندانو دتبلیغاتي چارو لپاره پانګه اچونه هم وکړي خو دځینو مالي ستونزو له امله دا چاره تر سره نه شوه.دکمیسون مرکه شویو چاراوکو دا معلومات هم وړاندې کړل چې نوماندانو ته دهغوې دمالي رپوټونو دچمتو کولو په موخه ځانګړې فورمې هم ورکول شوې وې. همدارنګه ورته ځینې ځانګړې فورمې ان دنوملیکنې پرمهال ورکول شوې وې (خو دکمیسون له کړنلارو نه دسرغړاوې په برخه کې ) ویل شویدي چې کمیسون به لومړۍ سرغړوونکو نوماندانو ته دتلفیون له لارې لارښوونه کوله بیا به یې په رسنیو کې دهغوې دپوهاوي هڅه کوله او په دریم پړاو کې دنه سمیدو په صورت کې دشکایتونو کمیسون ته وریپژندل کیدل.

د ټاکنو د مالي چارو نه د نوماندانو د پوهاوي په اړه موندنې:

دنوماندانو او ټاکنو دکمیسون له چاروکو سره تر مرکو ورسته دهغې د پرتلې وروسته فیفا ته کاږه واږه معلومات په لاس ورغلل چې سمون یې نه درلود ډیرې نوماندانو دکمیسون له لورې دمعلوماتو په نه ورکړه ټینګار کاوه دپام وړ ۲۲ نوماندانو له ډلې ۱٤ تنو وویل چې دکمیسون له لورې ورته هیڅ ډول معلومات ندي ورکول شوي په داسې حال کې چې دکمیسون چاروکو ادعا کوله چې ټولو نوماندانو ته یې په یو ډول ټول اړین معلومات چمتو او سپارلي دي په هر حال ناسم معلومات دنوماندانو لپاره هم ستونزمن دي فیفا دې پایلې ته ورسیده چې نوماندانو ته داړینو معلوماتو دنه ورکولو په صورت کې نوماندان هم دکمیسون دهر ډول کړنلارو پر وړاندې دمسولیت احساس نه کوي.ددې تر څنګ دکمیسون له لورې دنوماندانو دمالي چارو بهیر هم په سمه بڼه ندې څارل شوې چې په دې توګه نوماندان په اسانۍ سره له دې کاره غاړې ته کیدل او خپل مالي رپوټونه یې په سمه بڼه نه ورکول.په دې صورت کې دهغوې دمالي لګښتونو دڅارنې او معلومولو لپاره بله هیڅ لاره موجوده نه وه.

د ټاکنو د کمیسون د کړنلارو د په پام کې نیولو په موخه وړاندیزونه:

د څارنیزو چارو پیاوړتیا: دفیفا سیمه ییزه څارونکو له ټاکنو د مخه د کمپاین کولو ٤٨ پیښې ثبت کړې له وخت دمخه کمپاین دمخنیوي په موخه فیفا وړاندیزیز کوي چې دکمیسون دڅارنې برخې چارواکې او نور څارونکې دي دخپلې څارنې کړۍ پراخه کړي ددې تر څنګ دافغانستان دعادلانه او

خپلواکو ټاکنو بنسټ دا مني چې يو بنسټ په يوازې سره دټاکنو دمالي چارو ارزونه نه شي تر سره کولای نو دټاکنو کميسون بايد مدني ټولنې او نور بنسټونه ددې څارنې دترسره کولو په موخه وهڅوي

د زده کړې او پوهاوي ډيروالی: فيفا د ټولو نوماندانو(د لوړو زده کړو، نيمه زده کړو او بيسواده) لپاره دټاکنو دکمپاين وړاندې ددبنسټيزو زده کړو دورکړې وړانديز کوي.که څه هم چې دټاکنو کميسون ويلي چې دټول هيواد په کچه٪۷۹ نوماندانو خپل مالي رپوټونه سپارلي دي خو دفيفا له لورې ترسره شوې مرکو دا په ډاګه کړه چې دټاکنيز کمپاين په اړه اړين معلومات نوماندانو ته ندي ورکول شوي .

تر ټولو سخته جزا ورکول: که چيرې يو نوماند سره له دې چې دټاکنو دکميسون له لورې دچمتو شويو ټول کړنلارو په اړه معلومات هم لري خو بيا هم سرغړونه کوي هغه بايد تر ټولو سخته سزا ووينې دفيفا له لورې تر سره شوې مرکې، سيمه ييزه څارونکې، رسنيزه څارنه او دا ټول دسرغړونو په ډاګه کوونکې دي تر ټولو سخته سزا ورکونه او دغه راز اجرايه ضمانت دسرغړونو په مخنيوي کې مرسته کولای شي.

د پوليسو مرسته: فيفا وموندله چې ډيرې نوماندانو خپل کمپاين دکمپاين له رسمي پيل نه وړاندې پيل کړې و.چې دد ې څارنه په يوازې سر دټاکنودکميسون له لورې ناشونې ده.فيفا وړانديز کوي چې پوليس دې په دې برخه کې له کميسون سره مرسته وکړي ددې چارې تر سره کول پوليسو ته دروزنې ورکولواړتيا هم رامنځته کوي دا په دې معنا ده چې نوماندان له وخت نه دمخه خپل انځورونه پر ديوالونوراځړوي نو پوليس کولای شي چې هغه پاک کړې او سرغړوونکې دقانون منګولو ته وسپاري

سريزه

له دولتي امکاناتو نه دټاکنيز کمپاين پرمهال د يوازې څو نوماندانو په ګټه او يا زيان ناوړه ګټه اخيستنه د ټاکنو د قانون نه سرغړونه بلل کيږي. دکمپاين پرمهال په بيلابيلو ډولونو له دولتي امکاناتو نه ناوړه ګټه اخيستنه په نوي ديموکراتيکو نظامونو په ځانګړې توګه افغانستان کې يوه عادي خبره ده (له دولتي امکاناتو ناوړه ګټه اخيستنه کې) په ټاکنيز کمپيان کې له دولتي امکاناتو ناوړه ګټه اخيستنه،او همدارنګه په ټاکنيز بهير کې ددولتي چاواکو او مامورينو لاسوهنه شامل دي.

په ځانګړې توګه، د ټاکنو د کړنلارې د دريمې مادې دريم بند دنوماندانو دمالي شتمنيو دثبت په اړه حکم کوي چې هيڅ دولتي اداره نه شي کولای ديو کانديد په ګټه خپل امکانات وکاروي خو دا چې دواکمن مقام په امر ټولو نوماندانو ته دا اسانتياوې برابرې شي.دلته موږ وينو چې دافغانستان دولت نوماندانو ته داسانتياو له برابرولو بې برخې شويدی.

ددې تر څنګ نوماندان هم دخپل ټاکنيز کمپاين پرمهال ددولتي امکاناتو له کارولو منع شويدي ،دټاکنيز کمپاين دلارښود دشپږمې مادې ديوم بند ددې لارښوونه کوي چې (هيڅ نوماند نه شي کولای دخپل ټاکنيز کمپاين پرمهال له دولتي امکاناتو نه ګټه پورته کړي خو دا چې دواکمن مقام له لورې ټولو نوماندانو ته په يو دول ددې امکاناتو شونتيا موجوده شوې وي)دهمدې لارښود ۷ماده هم دولتي ادارو ته په ټاکينز کمپاين کې دلاسوهنې دنه کولو خبرداري ورکوي نو دولتي چاروکي بايد دهمدې اومې مادې پر بنسټ لاندې ټکي په پام کې ونيسي

۱- د دندې پرمهال د يو ځانګړي نوماند پرخلاف او يا ګټه لاسوهنه.

۲- په ټاکنيزو غونډو ، جلسو او لاريونونو کې نه لاسوهنه.

۳-له پلوې کولو نه ډډه کول د بيلګې په توګه پر يو ځانګړي نوماند نيوکه کول او يا دهغه په ګټه دامکاناتو کارول.

٤- له دولتي امکاناتو نه کارول د يو ځانګړي نوماند په ګټه او يا خلاف.

٥- ديوسترونو او انځورونو دله منځه وړلو نه ډډه کول.

دټاکنو خپلواک کميسون ځينې لارښونې په پام کې نيولي او ځينې معيارونه يې دټاکنو پرمهال له دولتي امکاناتو نه دګټې اخيستنې په موخه وضع کړيدي.خو هغه څه چې په قانون کې راغلي له واقعيتونو سره په ټکر کې دي د۱۳۸۹ کال دولسي جرګې دټاکنو دمالي چارو نه دڅارنې بنسټيزه موخه فيفا له ټولګټو امکاناتو نه دګټې اخيستنې په موخه ځانګړې موردونه تر څارنې لاندې نيولې دي په دې توکيو کې ديو او څو ځانګړو نوماندانوپه ګټه او زيان دټولګټو امکاناتو دبيژندنې،په دولتي ودانيو کې دکمپاين تر سره کول،او په رسمي وخت کې ددولتي کارکوونکو برخه اخيستنه په کپماين کې شامل دي.

موندنې:

دفيفا دڅارنې سيمه ډيره وړه او تنګه وه يوازې دکابل ښار په ۱٦ ناحيو او بګراميو ولسوالی کی وه نو دهمدې امله دهيواد په نورو ولايتونو کې له دولتي امکاناتو نه دګټې اخيستنې پايلې نشو څرکندولای.خو دهغه اونيزو رپوټونو له مخې چې دڅارنې پر مهال چمتو کيدل ،فيفا موندلې ده چې ځينې نوماندان ددولتي چارواکو له ملاتړ نه برخمن و دبيلګې په توګه هغوې دولتي نقليه وسايطو له امکاناتو نه برخمن و.

دفيفا په اونيزو رپوټونو کې ويل شويدي چې هغه نوماندانو چې دولتي دندې يې درلودې دخپل ځان په ګټه به يې دنوموني پرمهال تبيلغات کول.چې دا دټاکنو دقانون پرخلاف عمل دی. بله ثبت شوې سرغړونه داده چې هغه دهغه دولتي چاراوکي چې ځان يې ټاکنو ته نومولي و خپلوانودهغه په ګټه له دولتي امکاناتو ګټه پورته کوله.

دافغانستان دعادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ ان ددولت په کابينه کې ددولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخيستنې بيلګې ثبت کړيدي.لکه چې حکومتي چارواکو ديو خپلوان نوماند په ګټه او يا هم دځانګړې نوماندپر خلاف کمپاين تر سره کړې.په دې چارواکو کې وزيران،مرستيالان،سيمه ييزه چارواکي ودتعليمي ادارې مشران دپوليسو چارواکي،او دولسي جرګې اداري پلاوې شامل دي.دبيلګې په توګه ځينې نوماندانو په سيمه کې له تعليمي امکاناتو نه ګټه پورته کړې او په ښوونځيو کې يې دځان په ګټه کمپاين چلولې دی.په بله برخه کې دپوليسو مشرانو دخپل پام وړ نوماند پر وړاندې دسيال نوماند دکمپاين مخنيوې کړيدی.په يوه بله ولسوالۍ کې دپوليسو يوچارواکي په رسمي وخت کې ديو نوماند په ټاکنيزه غونډه کې ليدل شويدی.همدارنګه لسګونه دولتي چارواکي دخپل پام وړ نوماند په ګټه ددولتي امکاناتو په کارونه کې ليدل شويدي.همدارنګه دولتي چارواکو دراې ورکونې پرمهال خلک دخپل پام وړ نوماند په ګټه رايه اچونې ته هڅولې دی.دبيلګې په توګه يو وزير دولسي جرګې لپاره ديو نوماند چې ده دکورنۍ غړې و په ټاکنيزه غونده او دهغه په ګټه ددولتي امکاناتو په کارونه کې ليدل شويدی.دې وزير خپل کارکوونکي هم دخپل خوښې وړ نوماند په ګټه راې اچونې ته هڅولي دي.همدارنګه يې دخپلې خوښې وړ نوماند په ګټه دخپل وزارت داسناتياو دکارولو حکم ورکړې دی.

د ځانګړي نوماند په ګټه دملي تلويزيون پلوي:

دټاکنيز کمپاين دقانون دشپږمې مادې له مخې (دولتي رسنۍ بايد دنوماندانو کړنلارې،دقانون سره او دورکړل شوي وخت په پام کې نيولو سره چې دټاکنو دخپلواک کميسون له لورې ټاکل شوې په ناپلوي او عادلانه توګه خپرې کړي)

ملي تلويزيون (RTA) دځينو نوماندانو ټاکنيز کمپاينونه په پرله پسې توګه او يا دنورو نوماندانو په پرتله زيات خپاره کړيدي.او په پايله کې دولسي جرګې دځينو نوماندانو سره خپله پلوي ښودلې ده.دبيلګې په توګه له هغه ۲۲ نوماندانو نه چې تر څآرنې لاندې نيول شوي دملي تلويزيون په %۶۸ خبري سرويسونو کې يې نوم اخيستل شويدی.چې دا درسنيو دسرغړونوې دکميسون له لارښونو نه څرګنده سرغړونه ده.له خبري سرويسونوپرته يو نوماند %۳۸ وخت دځان لپاره ځانګړې کړې و.پورتنې دواړه بيلګې دملي تلويزيون پلوي توب په ډاګه کوي.

د دولتي امکاناتو د کارونې په اړه وړانديزونه:

د حکومت په دننه کې د پوهاوي لوړتيا: دفيفا دموندنو له مخې يو شمير دولتي چارواکو دولتي امکانات د خپلو پام وړ نوماندانو په ملاتړ کارولي دي په راتلونکو ټاکنو کې ددغه کړنو دمخنيوي لپاره دافغانستان  ټاکنوعادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ وړانديز کوي چې دټاکنو خپلواک کميسون دې دڅارنې کړۍ پراخه او داسې لارې چارې دې ولټوي چې دچارواکو له لورې ددولتي امکاناتو دکارونې مخه ونيسي په دې پرخه کې بايد درسمي ليکونو او رسنيو نه ګټه پورته کړاې شي.

جزا ورکونه: دولتي امکاناتو نه دکار اخيستنې دمخنيوي په موخه بايد دټاکنو خپلواک کميسون او دشکايتونو کميسون دعدلې له وزارت سره په همغږۍ داسې اغيزمن ميکانيزم جوړ کاندي چې وکولاې شي تر مخه يې له دولتي امکاناتو نه ګټه پورته کوونکو ته جزا ورکړل شي.نوماندان او دولتي چارواکي بايد په دې پوه شي چې که له قانون نه سرغړونه وکړي نو دقانون سره سم به مجازات شي.

د څارنيزو هڅو لوړتيا: له دې امله چې دټاکنو خپلواک کميسون په يوازې سر دسرغړونو څيړنه نه شي کولاې(هماغه ډول چې په دې پروژه کې څرګنده شوه)فيفا وړانديز کوي چې دټاکنو خپلواک کميسون دې دمدني ټولنو په مرسته دڅارنيزې پروسې څرنګوالي تر دې بريده لوړ کاندي چې په ټول هيواد کې دټاکنو  دپهيرڅارنه وشي او سرغړونکې په ګوته کړاې شي.

د رسنيو له کميسون نه د ټاکنيزې څارنې لپاره د يو ميکانيزم په توګه کار اخيستل:

دفيفا موندنو ښودلې چې دافغانستان ملي تلويزيون بې پرې خپرونې نه کوي او دځينو ځانګړو نوماندانو په ګټه يې خپرونې درلودې له ځانګړو نوماندانو نه ددولتي رسنيو دپلوې دمخنيوي په موخه فيفا وړانديز کوي چې دټاکنو دخپلواک کميسون درسنيو برخه داسې ميکانيزم تر لاس لاندې ونيسي دولتي او نادولتي رسنۍ لکه تلويزيونوراډيو او ورځپاڼې تر څارنې لاندې ونيسي دا چاره به دسرغړوونکو پيژندنه اسانه کړي.

ترنوماندۍ وړاندې له دولتي دندې لاس په سرکيدل: د افغانستان د عادلانه او خپلواکو ټاکنو بنسټ وموندله چې يو شمير دولتي چارواکو ددندې له پرې ښودو وړاندې دخپل ځان په ګټه تبلغات کول.په راتلونکې کې دې سرغړونې دمخنيوي په موخه فيفا وړانديز کوي چې تر ټولو سختې لارې چارې په پام کې ونيول شي.تر څو هغه نوماندان چې دولتي دندې يې په سمه توګه نه وي پرې ايښې دنوماندانو په نوم لړ کې شامل نه شي.دبيلګې په توګه هغوې بايد دخپلې اسعفا يوه کاپي دټاکنو خپلواک کميسون ته وسپاري

په هغه هيوادونوکې چې نوې ددموکراسۍ پر لور ګاومونه پورته کوي دټاکنو پرمهال درايو پير او پلور دټاکنيزو نظامونو پر وړاندې خنډ بلل کيږي.دا ټکې دافغانستان سره هم سمون خوري.چې بې وزلي او بې سوادې پکې درايو ارزښت راکموي.ښايي همدا لامل درايو دپير او پلور سبب هم وي.په دې برخه کې دفيفا له لورې ځينې تر لاسه شوې بيلګې وړاندې کووفيفا په دې پرخه دې ۱۸ نوماندانو له لورې دراې پيرنې ۳۰ بيلګې ثبت کړيدي.

موندنې

په مخامخ ډول درايو پيرل:

دفيفا سيمه يزه څارونکو دڅاکنو په ورځ دراې اچونې دکارتونو دپيرلو ګڼې پيلګې ليدلي دي که څه هم څارونکو ډيرې بيلګې موندلي خو دټولو هغو ثبتول ستونزمن کار دی.ددې لپاره چې دا چاره تر ډيره په پټو ځايونو کې تر سره کيږي .نو دهمدې امله فيفا په نامخامخ ډول درايو دپير بيلګې ثبت کړيدي.(لاندې وليدل شي)خو په يو څارنيز رپوټ کې دکابل په لومړۍ حوزهکې دوه سيالو نوماندانو تر منځ خورا سخته سيالي ثبت شويده چې هر يو له ٥ ن تر ١٠ ډالرو پورې ديوې راې په بدل کې ورکړيدي.په يوه بله پيښه کې ثپت شوي چې دولسي جرګې يو نوماند دهرې راې په پدل کې وروسته له هغې ٥٠٠ افغانۍ ورکولې چې رايه ورکوونکې به دهماغه نوماند انځور په خپل ګرځنده تليفون کې اخيستې و.همدارنګه په يوه بله پيښه کې دخيرخانې دکوتل په سيمه کې يو نوماند دهرې راې په بدل کې ١٠ ډالر ډول ورکول چې دا په مخامخ ډول دراې پيرنه په ګوته کوي.

په نامخامخ ډول د رايو پيرنه:

دفيفا دڅارونکو لاسته راوړنې ددې څرګدونه کوي چې په نامخامخ ډول درايو پير د١٣٨٩کال دولسي جرګې په ټاکنو کې تر سره وې.څارونکو،ځينې نوماندان ليدلي چې رايه ورکوونکي به يې دمادي ژمنوپه بدل کې دهغه په ګټه رايه اچونې ته هڅول .دبيلګې په توګه ځينې نوماندانو دکابل په لومړۍ ناحيه کې خلکو ته دجوماتونو دجوړلوو او يا هم دجوماتونو لپاره دفرشونو او نورو توکيو درکړې ژمنې کولې.چې په بدل کې به يې ملايان او دسيمې مشرانو دهماغه نوماند په ګټه کمپاين کاوه.دغو ملايانو به لمونځ کوونکي دلمانځه پرمهال دهماغه نوماند په پلوۍ رايه ورکونې ته هڅول.په يوه موندنه کې يو نوماند دکابل ښار دلومړۍ ناحيې دواحد کلا په سيمه کې دوه مشرانوته ١٠٠٠ډالره ورکړي تر څو ورته په خپله سيمه کې رايې تر لاسه کړي.همدارنګه کابل په ١٣ ناحيه کې يو نوماند دحضرتمهدي دجومات درغاونې په موخه ٨٠٠٠٠افغانۍ ورکړې وې.بل نوماند دسيد نورمحمدشاه مينې يوه جومات ته ٢٠٠٠٠افغانۍ ورکړې وې.دکابل ښار په ځنو ځانګړو سيمو په ځانګړې توګه دپغمان او پګراميو په لرې پرتو سيمو کې ځينو نوماندانودسيمې مخورو مشرانوته په ټولينزو شوراګانو کې پيسې ورکړې چې له خلکوورته راې واخلي.دا ډول کړنې دکابل ښار پ ١٣ او ٨ ناحيه کې ډيرې تر سترګو شويدي.

همدارنګه يو نوماند خواوشا ٢٠٠ تنه زده کوونکي دکابل شار دبوستان په پارک کې رابللي و.او هر يوه ته يې ١٠٠٠ افغانۍ ورکړې وې.همدارنګه يو بريالي نوماند دوه مليونه افغانۍ دد١٢ ناحيې دامام دسرک دپخولو لپاره ورکړيوې.بل نوماند ٧٠٠٠ ډالر دسجاديه دجومات درغاونې په موخه ورکړې وې.بل نوماند ٤٠٠٠٠ډالر دخدايداد په سيمه کې ديو جومات درغاونې په موخه ورکړې وې.چې په پايله کې يې دسيمې مشران دځان په ګټه درايو تر لاسه کولو ته اړ کړي ودغه راز يو بل نوماند دسجاديه جومات درغاونې په موخه ١٠٠٠٠٠ افغانې ورکړې وې او دسيمې له خلکو يې غوښتنه کړې وه چې ده ته رايه ورکړي.يو بل نوماند دسيد الشهدا جومات ته دجنازو دليږدولو په موخه يو موټر اخيستې و.يو بل نوماند دراې ورکونې په ورځ موټرې په کرايه نيولې وې ترڅو رايه ورکونکې په وړيا دول درايواچونو مرکزونو ته وليږدوي.

دفيفا څارونکو يوه په زړه پورې پيښه ثپت کړې ده يوې کورنې انجو ځينې بې وزلو خلکو ته دراې ورکونې کارتونه ويشلي و دا کارتونه يې بيرته د٣٠ افغانيو په پدل کې راټول کړل په دې توګه يې ٣٠٠٠ کارتونه راټول او دا يې دولسي جرګې پر يو نوماندوپلورل چې دغه انجو وروسته ډيرې لږې پيسې دکارتونو خاوندانو ته ورکړې.همدارنګه دکابل ښار په ١٣مه ناحيه کې ديو خيريه ټولنې مشر چې پخپله نوماند و دسيمې خلکو ته يوه اندازه خوراکي توکي د٧٠٠ راې ورکونې دکارتونو په پدل کې وويشل او هم دسيمې دجومات دجوړيدو ژمنه هم وکړه

په هغه مرکو کې چې فيفا له نوماندانو سره تر سره کړي دې پايلې ته رسيدلې چې ځينې نوماندان درايو په پير او پلور کې شامل ودبيلګې په توګه ځينې نوماندانو رپوټ ورکړې چې هغوې ديو شمير نوماندانو له لورې درايو درپير ليدونکي .او همدارنګه دوې هغه نوماندان هم ليدلي چې دټوليزو خدمتونو سر جوړونې ،جوماتونو جوړولو او دغه راز دبريښنا داسانتياو دچمتو کولو ژمنې کولې.

د رايو د پير او پلور په اړه وړانديز:

دفيفا دڅارونکودموندنو له مخې، د ټاکنو په ورځ دکابل ښار په ګنو مرکزونو کې په مخامخ او نامخامخ ډول درايو پير او پلور تر سره کيده. فيفا وړانديز کوي چې په رښتونې توګه عادلانه ټاکنو ته د رسيدو په موخه او دغه راز په افغانستان کې د ديموکراسې دپنستيزه کيدو لپاره او دهغه سمونونو رامنځته کول چې دموکراتيکو ارزښتونو ته وده ورکوي.او دا چې هغه درايه ورکونکو په منځ کې رواج وومومي اړين بولي.دټاکنو دپهير دڅارلو په پايله کې فيفا په راتلونکو ټاکنو کې درايو دپير او پلور دمخنيوي په موخه ځينې وړانديزونه کوي.

ددې زده کړه چې د رايو پير او پلور ناقانونه کړنه ده:

درايو دپير او پلور دمخنيوي په موخه بايد رايه ورکوونکي دخپلو رايو دارزښت په اړه روزنه تر لاسه کړي.فيفا په بد اړه دروزنکو کړنلارو او داچې خلک وپوهيږي چې رايه پلورنه يو ناقانونه کړنه ده وړانديز کوي.همدارنګ فيفا رايه ورکونکو ته دمذهبي او معنوي پلوه درايو درازښت وړانديز هم کوي.دښاريانو دضمير دويښونې په موخه او داچې درايو په ارزښت پوهيدل دهر چا ايماني دنده ده په زړه پورې زده کړې دي.په ځانګړې توګه که هغوې درايو دپلور دقانوني سزا نه خبر شي.

د ملي پوليسو نه مرسته غوښتل:

فیفا دشکایتونو له کمیسون سره درایو دپیر او پلور دمخنیوي په موخه دملي پولیسو دمرستې تر لاسه کولو وړاندیز کوي.دمعلومات راکړه ورکړه او په خپل وخت دمداخلي کول به ددې سبب شي چې درایو دپیر او پلور دجرم تر سره کول عدلي ادارو ته واستول شي.
ددې پروژې په بشپړیدو سره ، دنوماندانو له مالي چارو څارنه تر سره کول د ټاکنو د بهیر یوه مهمه برخه ده. په افغانستان کې د ټاکنو دمالي چارو رونتیا د خلکو د باور د ترلاسه کولو لپاره یو مهم ګام ګڼل کیږي. د ټولو هیوادونو وګړي له دې امله چې دپیسو کارونه په سیاست کې رول لوبوي ګیله مند دي. دا مسله په افغانستان کې ډیره دقیقه ده. له دې امله چې ټاکني په دې هیواد کې یوه نوې پدیده ده په هر کچه چې موم وکولای شو دټاکنو مالي چارې رڼې ، غښتلي او دباور وړ وګرځوو.په هماغه کچه په موږ باورمندې ټاکني تر سره کړې وي.ددې وړاندیزونو پلې کول او دټاکنیزونو پنستونوته وده ورکول به له شک پرته په افغانستان کې دشفافیت کچه لوړه او له دموکراتیکي پروسي سره به مرسته وکړي او ټولنیز باور به هم پورته کړي.
د وړاندیزنو بیا کتنه
بیا هم،دفیفا ځیني وړاندیزونه څوواړخیزه و او ښایي چې داکنو دخپلواک کمیسون دکړنلارو دپلي کولو او له دولتي امکاناتو نه ناوړه ګټه اخیستني او دغه راز درایي دپیر او پلور دمخنیوي لپاره اغیزمن تمام شي.
دټاکنیزو کمپاینونو د لګښتونو محدودول: فیفا دداسي ټاکنیز قانون دپلي کولو وړاندیز کوي چې پر ټاکنیزو لګښتونوپکي محدودیت لګول شوی وي پر پوسترونو،انځورونو، او نورو تبلیغاتي پانو باندې پکي له احتیاط نه ډک محدویت لګول شوی وي.فیفا ټینګار کوي چې موږ باید دټاکنو دلا قانوني کیدو لپاره مالي لګښتونه په ډیر ه ځیرکتیا وا حتیاط سره وڅارو.په ټاکنزو لګښتونو کې محدویدت رامنځته کول به ددې سبب شي چې په ټاکنو کې دشتمنیو دلګولو مخه ونیول شي
دزده کړو دوام او دمعلوماتو ورکړه: فیفا دټاکنو دخپلواک کمپسون دچاراوکولپاره دټاکنو له پیلیدا وړاندې دروزنیزو ورکشاپونو او زده کړو دچمتوکولو وړاندیز کوي.تر څو دهغوې مسلکي پوهه لوړه اودتاکنیزو سرغړونو مخه ونیول شي.او وکولای شي چې ستونزې پر خپل وخت وپیژني .دټاکنو خپلواک کمیسون او دشکایتونو دارویدو کمیسون باید دنوماندانو په منځ کې زده کړې او دمعلوماتو ورکړې ته وده ورکړي او ځان ډاډمن کړي چې دا معلوماتو ټول نوماندانوته په یو ډول رسیدلي دي
تر ټولو سخته سزا ورکونه: د فیفا څارونکي پر دې بریالي شول چې ګڼې ټاکنیزې سرغړوني وڅیړي.فیفا له دولتي امکاناتو نه دناوړه ګټې اخیستني درایو دپیر او پلور او دغه رازدټاکیینزو سرغړونو په برخه کې دمجازاتو دسختولو غوښتنته کوي.چې دا چاره به په راتلونکو ټاکنو کې دسرغړونو دمخنیوي سبب شي.له همدې امله اړینه ده چې په ټاکینزه پروسه کې دپام وړ سمونونه رامنځته شي.فیفا وموندله چې نوماندانو ملیونونه افغانی په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې ولګولي.نو یوازې جزا او پندیز لګول به دد ې لپاره بسنه ونکړي.
د څارنیزو هڅو پراخول: فیفا ټینګار کوي چې د ټاکنو د مالي چارو د څارني لپاره ډیرو هڅو ته اړتیا ده. فیفا وړاندیز کوي چې د ټاکنو خپلواک کمیسون دی د مالي چارود سمې څارنې په موخه له ګڼو څارونکو نه کار واخلي ددې تر څنګ دې د افغانستان دولت د مدني ټولنو او دغه راز د خپلواکو ټولنو د رول نه د ټاکنز بهیر د څارني په موخه ګټه واخلي.